**د بېرنيز خيرېدو لپاره**




## روشن د 3 نورو کلونو لپاره د افغانستان روشن دغوره ليګ د سرليک ملاتړی شو

## د هېواد ترټولو سترهورزشي پېښه

**د ۱۳۹۴ کال د چنګاښ ۱۸-** «د افغانستان د فوټبال فېډراسيون (AFF)»، «روشن» – په افغانستان کې مخکښ مخابراتي شرکت – او «موبي ګروپ» – د افغانستان ترټولو سترهرسنيزه ډله، په وياړ سره اعلان کوي چې د روشن شرکت به لا هم د افغانستان روشن د غوره ليګ د ملاتړي په توګه پاتې شي.

د «۱۳۹۳ افغانستان روشن غوره ليګ» د هغو ځوانو فوټبالېستانو لپاره د افغانانو د شورماشور شاهد وو چې د افغانستان له ګوډګوډ څخه فوټبال سره د مينې او لېوالتيا لپاره، د افغانستان روشن د ارزښمن غوره ليګ د اتلولۍسرليک د ګټلو لپاره، له يوبل سره په سيالۍ بوخت شول. د افغانستان د بازارموندنې او مديريت د سلاکارانو د شمېرو پر بنسټ په ۱۳۹۳ کال کې، لږ تر لږه د افغانستان ۵۲,۶ سلنه خلک (۱۳,۵ ميليون کسان) د شاهين آسمايي د بيا اتلولۍ شاهدان ول.

**کريم خوجه، د روشن شرکت اجرائيه رئيس**وويل: «په افغانستان کې د مخکښ مخابراتي شرکت په توګه، موږ وياړو چې د افغانستان روشن غوره ليګ څخه زموږ ملاتړ توانېدلی دی چې د ملي يووالي او غرور د چغې پورته کولو لپاره د ټولنې ټول وګړي سره يوځای کړو. همدارنګه د يوه ټولنيز شرکت په توګه، ډېر خوشاله يو چې د «افغانستان روشن غوره ليګ» څخه زموږ ملاتړ، دا ليګ د افغانستان له ګوډ ګوډ څخه د ځوانو فوټباليستانو د را غونډېدو په ترټولو مهم ليګ بدل کړی؛ هغوی کولی شي د فوټبال سره د مينې لپاره د يوبل سره سيالي وکړي او د هېواد د ننه او بهر کې زموږ وياړلي استازي ووسي. د غوره ليګ د سرليک ملاتړتوب د دريو کلونو لپاره اوږدونه، د افغانستان د ودې، د ځوانانولپاره د فرصتونو برابرول، چې زموږ د هېواد ډېری نفوس جوړوي، او په فوټبال او نورو برخو کې د دې ملت مخ پر ودې حرکت سره زموږ د مرستې د دوامدارې ژمنې ښکارندوی دي.»

**د افغانستان د فوټبال فدراسیون رییس، کرام الدین کریم،** زیاته کړه: «دا فدراسیون ډېر خوشاله دی چې روشن توانېدلی چې یو ځل بیا د افغانستان روشن غوره لیګ د سرلیک ملاتړی شي. دې شرکت ښودلې ده چې ډېر پام یې یوازې په شبکه‌اي خدمتونو باندې نه ده؛ همدارنګه هغوی د خلکو د اړیکو لپاره د بېلابېلو لارو د رامنځته کولو او په افغانستان کې تر ټولو سترې ساتېرۍ بنې د ملاتړ په هڅه کې دي. موږ د افغانانو ترمنځ د یووالي د دوام لپاره په خپل ګران هېواد کې خپلې همکارې ته دوام ورکوو.»

**شفیق ګوهري،د موبي ګروپ اجرائیه رئیس او د افغانستان روشن غوره لیګ کمېشنر**، د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل: «د روشن شرکت سره زموږ پیاوړی دوام زموږ د اوسني بریالیتوبونو د کامیابیو راز او د افغانستان روشن غوره لیګ د ودې لامل دی چې بیاځلي د فوټبال او ورزش لپاره د افغانانو د شور او شوق ښکارندویې کوي. د دې لپاره د روشن له شرکت څخه د هغوی د بې‌ساري ملاتړ لپاره له هغوی څخه مننه کوو. موږ د فوټبال له لارې د سولې، یووالي، او د روغ ژوند د چلند خپرولو ته دوام ورکوو.»

**د افغانستان روشن غوره لیګ په اړه:**

د ۱۳۹۴ افغانستان روشن غوره لیګ نوروزي ټورنمنټ په پیل سره، د فوټبال مسلکي لیګ څلورم څپرکی پیلېږي. دا لیګ په پوره توګه د «فیفا» او د «آسیا د فوټبال کنفدراسیون» له لارې ملاتړ کیږي. د لوبې ټول قوانین او قاعدې د «فیفا» او د «آسیا د فوټبال کنفدراسیون» سره سمون لري. «د افغانستان روشن غوره لیګ» ټولې لوبې په ژوندۍ بڼه د «طلوع» او «لمر» تلویزیونونو او همدارنګه د «آرمان اف ام» او «آراکوزیا» راډیوګانو له لارې خپریږي. دا لوبې په کیبلي تلویزیونونو او په آنلاین بڼه هم خپرېږي. د دې سیالیو د څارلو لپاره د افغانستان غوره لیګ سایټ [www.AfghanPremierLeague.com](http://www.AfghanPremierLeague.com) ته مراجعه وکړئ!

**د روشن مخابراتي شرکت په اړه:**

د دې لوبو د پیل څخه، روشن په انحصاري ډول د افغانستان روشن غوره لیګ د سرلیک رسمي ملاتړکوونکی دی. «روشن» **(د افغانستان د مخابراتي ودې شرکت)**، په افغانستان کې مخکښ مخابراتي شرکت چې له ۶,۵ میلیونو څخه ډیر فعاله ګډونکوونکي لري. دا شرکت یوه شبکه ده چې د هېواد څه د پاسه ۲۸۷ ولسوالۍ او ښارونه یې په ۳۴ ولایتونو کې د پوښښ لاندې راوستي دي. «روشن»، د افغانستان د بریالیتوب یوه رښتیني کیسه ده چې د اقتصاد د ودې او د هېواد په اوږدمهاله پرمختګ کې یې د یو لامل په توګه مرسته کړې ده. د دې شرکت د فعالیتونو د پیل څخه په ۱۳۸۲ کال کې، روشن څه د پاسه ۶۰۰ میلیون ډالره په افغانستان کې پانګه اچونه کړې ده او په هېواد کې ترټولو ستر پانګه اچوونکی او مالیه ورکوونکی شرکت ګڼل کیږي چې په یوازې توګه د افغانستان د دولت کابو ۵ سلنه منځنی (داخلي) عایدات جوړوي. د ۱۱۰۰ کسانو څخه زیات، په مستقیمه توګه د روشن مخابراتي شرکت سره کار کوي چې ۱۹ سلنه یې ښځې جوړوي او همدارنګه دې شرکت ۳۰۰۰۰ کسانو ته په غیرمستقیمه توګه د کارکولو لاره هواره کړې ده.روشن په ژوره توګه د افغانستان د ودې او بیارغونې لپاره ژمن دی. د اقتصادي ودې لپاره د آغاخان صندوق (AKFED)، د آغاخان د پراختیایي شبکې یوه برخه (AKDN)، د روشن ترټولو لوی لېکمن (سهملرونکی) دی چې د نړۍ په وده کوونکي (د ودې په حال) هېوادونو کې خصوصي نوښتونو (ابتکار) او د باثباته او ګټه‌ور شرکتونو جوړولو ته وده ورکوي. د دې شرکت د څښتنتوب یوه برخه د موناکو نړیوال مخابراتي شرکت (MTI) او ټیلیا سونرا په لاس کې ده. روشن نړیوال تخصص هېواد ته راوړی دی، او د افغانستان د خلکو لپاره د شبکې د کیفیت ترټولو لوړو معیارونو او پوښښ ته ژمن دی.

**د افغانستان د فوټبال فدراسیوان په اړه (AFF):**

«د افغانستان روشن غوره لیګ» د افغانستان د فوټبال فدراسیون تر مالکیت لاندې دی. دا فدراسیوان په هېواد کې د فوټبال د ورزشي کربښې (برخې) د اداره کولو مسؤل دی، چې په ۱۳۲۷ کال کې د فیفا غړی شو. د افغانستان د فوټبال فدراسیون یو غیر دولتي بنسټ دی چې خپل فعالیتونه یې د ۱۳۰۰ هجري لمریز کال راپه دې خوا پیل کړي دي. دا فدراسیون یو غیرانتفاعي بنسټ دی چې د داسې یوې فضا د جوړولو غوښتونکی دی چې د فوټبال لېوال کسان وکولای شي د فوټبال پراخې ټولنې سره وتړل شي او د هغې یوه برخه ووسي. دا فدراسیون د ټورنمنټونو، لیګونو او د جامونو له لارې په افغانستان کې د فوټبال څو ډول (فوټبال، ساحلي فوټبال، فوټسال، د سړک فوټبال او داسې نورو لپاره) بېلابېل ښوونیز کورسونه په لاره اچوي. «د افغانستان د فوټبال فدراسیون» د «فوټبال نړیوال فدراسیون (فیفا)» له خوا په رسمیت پېژندل شوی دی او کارکوونکي یې له مسلکي پلوه د فیفا او د «افغانستان د فوټبال فدراسیون» له خوا منل شوي دي.

**د موبي ګروپ په اړه:**

«موبي ګروپ» د محسني کورنۍ له خوا پرانیستل شوی دی. دې شرکت خپل کارونه په ۱۳۸۱ کال (په افغانستان کې له جګړې څخه وروسته) د لومړنۍ خصوصي راډیویي شبکې یعنې آرمان اف ام په لاره اچونې سره پیل کړل. له هغه نه وروسته، دې ډلې په یو مخکښ رسنیز او تفریحي شرکت بدلون وموند، څنګه چې د ۱۰۰۰ کارکوونکو څخه زیات کسان یې په ۱۷ بېلابېلو سوداګریزو برخو او ۷ بازارونو کې په کار ګومارلي دي. د دې شرکت مرکزي دفتر په **دبی استوډیو سیټي** کې دی او څه د پاسه ۳۰۰ میلیونه کسان له مرکزي آسیا څخه د آفریقا تر شمال پورې د دې ډلې د خدمتونو د پوښښ لاندې دي. موبي ګروپ د جوړیدو څخه تراوسه، په پرمختللې، د پرمختګ په حال کې، او د دریمې نړۍ په بازارونو کې د رسنیزو دندو او کِسبونو په جوړولو کې بې‌ساري مهارتونه او تخصصونه لاس ته راوړي دي. د موبي ګروپ تګلاره (استراتیژي) دا ده چې په اوسنیو بازارونو کې بریالیتوب تر لاسه کړي، نوي فرصتونه پیدا کړي. په دې تګلاره کې هغه بازارونه چې د ډېرې مودې په بهیر کې ورته پام نه دی شوی، د ودې په حال کې دي، او یا هم په ناکاره توګه اداره کیږي، پیژاندل کیږي. همدارنګه دا ډله د نویو نوښتونو څخه په ګټې اخېستنې سره د آنلاین او ډیجیټل خپرونو له لارې «سیمه‌ییز او نړیوالې» کچې ته د خپل پوښښ سیمو ته د ودې ورکولو په هڅه کې دی.

خپلې پوښتنې له لاندې لارې څخه له موږ سره شریکې کړئ:


**د افغانستان روشن غوره لیګ:**

ناصر احمدزی: د عامه اړیکو مدیر

دفتر:+93780389172

ایمېل: Nasir.Ahmadzai@mobygroup.com

www.afghanpremierleague.com

**د روشن مخابراتي شرکت:**

شفیع شریفي- د عامه اړیکو مدیر

دفتر: +93799999065

ایمېل:Sharif.Sharifi@roshan.af

**د افغانستان د فوټبال فدراسیون:**

سید علي رضا آغازاده – عمومي رئیس (دبیر کُل)

دفتر: +93798898898

ایمېل: ali@aff.org.af